# ACCI Business Tendency Survey Report

د افغانستان د سوداګرۍ او صنايعو اتاق د کاروبار د سروې راپور

**June 2017**

**2nd Quarter**

چنګاښ ۱۳۹۶

دويمه ربعه

**د GIZ په همکارۍ**

**پښتو ژباړن: عبدالوافي نايبزی**

## ACCI Business Tendency Survey Report[1]

د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو اتاق د کاروبار د سروې راپور

**عمومي/ستړې موندنې:**

- په تېرو دوو سرویو کې، د کاروبار عمومي وضعیت لږ پرمختګ کړی دی، خو د تېر کال په پرتله په کې کوم محسوسېدونکی بدلون نه دی راغلی، شرکتونه/کمپنۍ د راتلونکیو شپږو میاشتو له پاره خوشبینه دي، خو تېرې سروې ته په کتو سره یې دا وار د خوشبینۍ کچه ټیټه شوېده.

- سیمه ایز توپیرونه د پام وړ دي، ننګرهار ولایت کې کاروبارونو د پام وړ پرمختګ کړی دی، هرات هم مثبت کاروباري شاخص لري، په داسې حال کې چې کابل، کندهار او بلخ ولایتونو د خپل خرابېدونکي کاروبارونو په اړه کوم اړین بدلون څخه خبر نه دی ورکړی.

- په دې سروې کې د کرنې سکټور یوازینی سکټور دی، چې مثبت کاروباري شاخص لري، په داسې حال کې، چې تولیدي او رغنیز/ساختمان دوه رنځېدونکي سکټورونه دي.

- کاروبارونو د سفارشونو کتابونو یا آرډربوکس د کوچني کېدو په حال کې دي، خو د ۲۰۱۶ز فصل ته په کتو سره په ښه حالت کې قرار لري.

- امنیت، بازار او تقاضا او زېربناوې د کاروباري پراختیا په برخه کې ډېر پرمختګ ته اړتیا لري.

- ساختمان، سوداګري، تولیدي او خدمتونو برخې ډېرې وګړي له دندو ګوښه کړي، نسبت هغوی ته چې په تېرو دریو میاشتو کې ګمارنې کړې. یوازې د کرنې سکټور د ګمارنې مثبت شاخص لري.

- د دې سروې پر بنسټ، کمپنۍ د ګمارنې په برخه کې (9.3) خوشبینه دي، خو د خوشبینۍ کچې یې نسبت تېرې سروې ته کمه ده. کرنه د ګمارنې د لوړ (33.1)نرخ توقع لري او تولیدي برخه د ټیټ (-0.6).

[1] دا سروې د کاروبارونو له مدیرانو څخه د هغوی د کاروبارونو د اوسني حالت او د راتلونکیو شپږو میاشتو د غوښتنو په اړه د نظر غوښتنه کوې، دا سروې په پنځه سیمو (کابل، بلخ، کندهار، هرات او ننګرهار) کې ترسره شوې ده، ۷۰۵کمپنیو سره د ټېلیفون له لارې د ۲۰۱۷ز په لومړۍ اوونۍ کې مرکې شوې دي.

**الف: کاروباري اقلیم**

کاروباري اقلیم د GDP د ودې د میلان یو شاخص دی، دا شخص موږ ته له وړاندې د GDP بدلونونه ښيئ (د څو میاشتو اوسط وي، که چېرې په مشخص شوي شرایطو کې نامتوقعه بدلون را نه شي.)

د کاروباري اقلیم دا شاخص د کاروبارونو د مدیرانو له اوسني کاروبار څخه د یو معیاري او نړیوالې فارمولې جوړ شوی دی، چې په راتلونکیو شپږو میاشتو کې د دوی د کاروبارونو تقاضاوې یا Expectations څومره دي. (د میتودولوژي د لیدنې په پاره د راپور اخر وګورئ)


دا شاخص له صفر (نارمل) څخه پیلېږي، چې تر ممکن حده تر مثبت ۱۰۰ پورې لوړ ځي، چې د مثبت کاروباري اقلیم مانا ورکوي او له صفر څخه ښکته تر ممکن حده تر منفي ۱۰۰پورې ځي، چې د منفي کاروباري اقلیم مانا ورکوي.

**الف، ۱: په عمومي او سیمه‌ایزه بڼه د کاروبار اقلیم:**

په جون، ۲۰۱۷ز کې، د کابل، بلخ، قندهار، ننګرهار او هرات له پاره د کاروبار عمومي اقلیمي شاخص د (6.7-) تر منځ ارزښت لري، په داسې حال کې، چې په تېره سروې کې دا (9.1-) وو.

لکه څرنګه چې په لومړي ګراف کې ښکاري، د ۲۰۱۶ د دورو په پرتلنه، په تېرو دوو سرویو کې د کاروبار عمومي وضعیت په لږ ډول پرمختګ کړی دی، خو کوم د لمسکېدا بدلون پکې نه دی راغلی. سروې شوي کاروبارونه ښيي، چې نسبت تېروې سروې ته يې لږ (30.5- →37.5-) پرمختګ کړی دی، خو راتلونکيو شپږو میاشتو کې د دوی توقعات (9.5→ 11.6) کم شوي دي.

د معمول په ډول، سروې شوي کاروبارونه د خپلو پلانونو اړوند خپله خوشبیني ساتي، خو په تېرو دریو میاشتو کې یې چې څه لاسته راوړنې درلودلې، ترېنه راضي نه دي.





| | IV-12 | IV-13 | I-14 | II-14 | IV-14 | I-15 | II-15 | III-15 | IV-15 | I-16 | II-16 | III - 16 | IV - 2016 | I - 2017 | II - 2017 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ټولټال | 14 | 8 | 27 | 1 | 31 | 19.3 | 2.208 | -23.1 | -18.9 | -9.07 | -6.71 | -6.81 | -9.93 | -9.1 | -6.7 |
| کابل | 17 | 12 | 29 | -8 | 31 | 11 | -2.5 | -40.3 | -26 | -9.25 | -20.8 | -13.5 | -30.4 | -29.6 | -27.2 |

د لومړۍ ربعي ۲۰۱۷ز په څېر، ننګرهار او هرات کي کاروباري اقلیم مثبت مخته تللی دی، او دواړه سیمي له مثبت اقلیمي شاخصونو څخه ګټه پورته کوي. سره د دې چې، هرات دا وار مخ پر ځوړ روان دی، او ننګرهار ولایت کاروبارونو رغنده پرمختګ کړی دی، کابل که څه هم د پرمختګ لړ څرک ښودلی دی، خو په سیمه ایزه کچه په ټیټه برخه کي قرار لري، په داسي حال کي چي کندهار او بلخ د تېر په څېر منفي کاروباري وضعیت کي شتون لري او کوم بدلون په کي نه دی راغلی.

ACCI BCI

**گراف 2: د هرې سیمې په تفکیک د کاروبار شرایط**
**1393-1396**





| | II-14 | IV-14 | I-15 | II-15 | III-15 | IV-15 | I-16 | II-16 | III - 16 | IV - 2016 | I - 2017 | II- 2017 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کابل | -8 | 31 | 11 | -2.5 | -40.25 | -26 | -9.25 | -20.75 | -13.5 | -30.405 | -29.6 | -27.2 |
| بلخ | -21 | 31 | 21.7 | 20.225 | -30.56 | -11.11 | 3.89 | -53.885 | -5.555 | -20.565 | -14.7 | -12.2 |
| قندهار | 10 | 33 | 25.55 | 2.75 | -12.22 | -27.22 | -19.44 | 4.995 | -1.11 | -2.61 | -20.9 | -20 |
| ننګرهار | 18 | 37 | 31.7 | 18.89 | -1.11 | -6.11 | -11.115 | 27.78 | -3.89 | 5.65 | 12.6 | 23.5 |
| هرات | 4 | 24 | 6.7 | -28.325 | -31.11 | -23.885 | -9.445 | 8.33 | -10 | -1.47 | 7 | 2.2 |

**الف، ۲: د سکټورنو په‌وسیله کاروباري اقلیم:**

تولید سکټور (20) او ساختمان/رغنیز (15.3-) دواړه هغه سکټورونه دي، چې د کاروبار شاخص یي په ټیټ او خراب حالت کې قرار لري، خدمتونو او سوداګرۍ سکټور بیا د کاروبار د حالت په برخه کې د کوچني مثبت بدلون څخه راپور ورکړی دی، خو دواړه منفي شاخص (9.3- and 12.8-) کې شتون لري.

د کرنې سکټور چې د ۲۰۱۶ز کال په وروستۍ ربعه کې په دې سروې کې اضافه شوی دی، یوازینی سکټور دی، چې مثبت کاروباري اقلیم (6) لري.





| | II-14 | IV-14 | I-15 | II-15 | III-15 | IV-15 | I-16 | II-16 | III - 16 | IV - 2016 | I-2017 | II-2017 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| تولیدی | 3 | 36 | 18.7 | 19.695 | -20.605 | -11.82 | -0.905 | -4.24 | -1.515 | -12.73 | -19.4 | -20 |
| سوداګری | -1 | 32 | 20.7 | -5.515 | -26.555 | -25.17 | -8.275 | -3.45 | -6.9 | -11.38 | -14.8 | -9.3 |
| ودانیز | 11 | 25 | 9.5 | -11.425 | -28.575 | -21.9 | -20 | -14.29 | -16.67 | -27.615 | -14.8 | -15.3 |
| خدماتی | 0 | 29 | 19.3 | -5.4 | -31.38 | -23.79 | -11.38 | -17.93 | -10.69 | -15.17 | -19.4 | -12.8 |
| د کرنی او مالداری | | | | | | | | | | -5.515 | 3.8 | 5.9 |

**الف، ۳: د شرکتونو د شمېر پر بنسټ کاروباري اقليم:**

د کاربار اقليم دا سروې ښيئ، چې د لويو او کوچنيو و منځنيو کچې کاروبارونو درک ډېر توپير لري، د کوچنيو او منځنيو کچې شرکتونه نسبت تېرې سروې ته خراب شوي دي، کوچنيو کاروبارونو د منفي کاروبار اقليم/حالت منفي (19-) شاخص څخه خبر ورکړی دی، چې نسبت لومړی ربعې (22.3-) ته په کمه کچه ښه دی، خو د تېر کال د همدې موسم سروې (13.88-) څخه خراب حالت کی دی، لوی شرکتونو د مثبت کاروباري شاخص څخه خبر ورکړی دی، چې نسبت تېر کال ته لوړ دی.

سره له دې چې، لويو او کوچنيو شرکتونو خوشبيني راتلونکيو شپږو مياشتو ته کمه شوېده، لوی شرکتونه (9.5) په راتلونکيو شپږو مياشتو کې نسبت کوچني او منځيو شرکتونو (1.2) ته ډېر خوشبين دي.





| | II-14 | IV-14 | I-15 | II-15 | III-15 | IV-15 | I-16 | II-16 | III - 16 | IV - 2016 | I-2017 | II-2017 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کوچنی او منځنی | -5 | 29 | 11.9 | -5.415 | -33.05 | -27.42 | -14.74 | -13.88 | -12.12 | -16.04 | -22.3 | -19 |
| لوی شرکتونه | 6 | 35 | 27.7 | 13 | -14.8 | -7.5 | 1 | -1.5 | -1 | -9.73 | 3.6 | 4.4 |

**ب، Order Books:**


دا د کاروبار د وضعیت له پاره بل شاخص دی، دا د کاروبار د وضعیا له پاره بشپړوونکی دی او اقلیمي تمایل د کنټرول په موخه کاربري، د پایلي ارقام د ارزښ د میزان د سلني پر بنسټ دي (له مثبتو پوښتونو څخه منفي ځوابونه منفي شوي).

د کاروبارونو له رپوټ سره سم، چې د دوی د ارډر بووکس حالت د پام وړ پرمختګ نه دی کړی. د سفارش کتابونو یا آرډربووکس یې د کوچني کېدا (8-38) په حال کې دی، د یادوني وړ ده، چې دا رقم یا اندازه د ۲۰۱۶ز کال د سفارش دکتابونو (60.36-) په اندازه ډېره لوړه ده، د تېرې سروې په څېر، ننګرهار یوازینی ولایت دی، چې مثبت Order Books شاخص (5.1) لري، په داسي حال کې، چې بلخ (54-) او کابل (50-) تر ټولو ټیټ شاخص لرونکی دی.



**ج: د روزګار توقعات:**

د سروې پر بنسټ، شرکتونه د روزګار د لرلید لپاره خوشبين (9.3) دي، خو د دوی د خوشبيني کچه تېرې سروې ته ټيټه شوېده، د کرنې برخه د روزګار د لوړې اندازې 33.1 تمه لري او توليدي برخه د ټيټ 0.6-.




**ګراف 7: د سکتورونو په تفکيک د ګمارنې هيلې**
**1396-1393**

| | II-14 | IV-14 | I-15 | II-15 | III-15 | IV-15 | I-16 | II-16 | III - 16 | IV - 2016 | I-2017 | II-2017 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| توليدی | 43 | 56 | 40.61 | 27.88 | -19.39 | -33.035 | -10.605 | -16.365 | 0.91 | -4.85 | -17 | -10.3 |
| خدماتی | 39 | 45 | 42.75 | 23.45 | -20.95 | -35.17 | -14.83 | -16.21 | -5.52 | -9.66 | -8.7 | -9.4 |
| سوداګری | 20 | 37 | 34.48 | 23.45 | -17.24 | -24.475 | -20.345 | -12.07 | -15.18 | -8.275 | -11.7 | -8.3 |
| ودانيز | 18 | 30 | 34.29 | -5.72 | -18.62 | -40.95 | -23.335 | -20.475 | -22.385 | -18.57 | -10.5 | -13 |
| دکرنی او مالداری | | | | | | | | | | 1.725 | 4.9 | 21 |

د يادولو وړ ده، چې د ربښتيني روزګار اوسنی وضعيت د تېرې سروې د روزګار د وضعيت له غوښتنو سره توپير لاره، د ۲۰۱۶ز په نومبر کې، سروې شويو شرکتونو په خپلو راتلونکيو دريو مياشتو کې د کاروبار په لوړېدا کې 11پاينته لوړوالی ښوده، په داسې حال کې چې اوسنی سروې په تېرو دريو مياشتو کې د کاروبار ډېر منفي تمايل ښيئ. سروې ته ځواب ورکوونکو وويل، چې دوی خپل پرسونو نسبت هغوی ته، چې ويل يې په اخرو دريو مياشتو کې يې ډېر وګړي استخدام کړي دي، 16.8سلنه کم کړی دی.

رغنيزې چارې 31.5-، خدمتونه 19.4-، سوداګري 25.6- او توليد 20- برخو کې دندې له لاسه ورکړي، د کرنې(8.9) برخه کې دندی منځ ته راغلي دي.


## د. امنيتي حالت:

د امنيتي وضعيت له پاره اوسط شاخص په تېرو دريو مياشتو کې 26.2- وو، د پام وړ خراب شوی دی(36.4-)، خو سيمه‌ايز توپير بيا لوړ دی.

هېڅ يو ولايت د امنيتي شاخص به اړه مثبت راپور نه دی ورکړی، خو کندهار(5.2-)، ننگرهار (13.9-)او بلخ (-14)نسبت کابل (64-)او هرات(53-) ته د خراب امنيتي حالت راپور ورکړی دی.

ACCI BCI


**گراف08 : د هرې سيمي په تفکيک د امنيتي حالت**
**1393-1396**
**(پوښتنه : د تيرو دريیو مياشتو)**




| | II-14 | IV-14 | I-15 | II-15 | III-15 | IV-15 | I-16 | II-16 | III - 16 | IV - 2016 | I-2017 | II-2017 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کابل | 1 | -17 | -40.5 | -54.5 | -70 | -61.5 | -59 | -33.5 | -17.5 | -48.17 | -65.7 | -64.1 |
| بلخ | -7 | 17 | 33.33 | -29.22 | -62.22 | -40 | -65.56 | -64.45 | -46.67 | -46.09 | -35.6 | -14 |
| قندهار | 13 | 22 | 54.45 | 19.78 | 18.89 | -18.89 | 35.56 | 5.55 | -2.22 | -14.78 | 2.5 | -5.2 |
| ننگرهار | -22 | -16 | 38.88 | -36.67 | -46.67 | -77.78 | -60 | -48.89 | 7.77 | -52.18 | 5.2 | -13.9 |
| هرات | 0 | -17 | -5.55 | -37.78 | -62.22 | -40 | -8.89 | -30 | -17.78 | -14.78 | -3.3 | -53.1 |

**هـ: د کاري پراختيا لهپاره مطلوبه پرمختګونه:**

د کسب و کار د محدودیتونو ارزیابي ښيئ، چې د کاري پراختیا تر ټولو اړین عامل امنیت دی، چې اداري اصلاحات، د مارکېټ تقاضا، ښه زېربناوي او مالي چارو-ته-لاسرسی ورسره مل دي.




**گراف 09: د کاروبار پر وړاندې پراته عمده خنډونه 1393-1396**

| | II-14 | IV-14 | I-15 | II-15 | III-15 | IV-15 | I-16 | II-16 | III - 16 | IV - 2016 | I-2017 | II-2017 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نا امنی | 53 | 44 | 45.18 | 41.43 | 53.93 | 55.71 | 47.58 | 64.11 | 54.29 | 63.12 | 54.8 | 70.2 |
| مارکیت او تقاضا | 23 | 27 | 19.11 | 21.61 | 21.96 | 21.25 | 23.08 | 12.5 | 20.36 | 10.07 | 15.5 | 10.1 |
| د اداری اصلاحات | 6 | 7 | 13.75 | 17.5 | 13.57 | 12.86 | 14.67 | 9.82 | 10.54 | 8.51 | 18.2 | 8.5 |
| بنستونه | 12 | 17 | 17.14 | 13.93 | 6.25 | 7.32 | 9.84 | 7.86 | 10.18 | 12.77 | 7.4 | 9.8 |
| مالی سرچینو ته لاسرسی | 6 | 5 | 4.82 | 5.54 | 4.29 | 2.86 | 4.83 | 5.71 | 4.64 | 5.53 | 4.3 | 1.4 |

**ضمیمه:**

د کاري اقلیم د شاخص تعریف:

کاري اقلیم د یو دوره یي سروي پر بنسټ ده، چې له تولیدي، رغنیز، خدماتي او سوداګریز شرکتونو له مدیرانو سره ترسره شوېده. مدیران د کار په اوسني او د کار څخه د راتلونکې شپږ میاشتو غوښتنو په اړه سروې شویدي،هغوي ښایي داسې راپور ورکړي، چې کار یې له «له عادي حالت ښه شوی»، «عادي دی» او «له عادي حالت بدتر شوی». د کار څخه د هغوی غوښتنې ښایي داسې ځواب شي، چې: «پرمختګ یې کړی»، «د تېر په څېر روان دی» او یا «خراب شوی».

د اوسني وضعیت د تعادل ارزښ د خپروو شویو ځوابونو د سلنې توپیر دی، چې «له عادي ښه دی» او «له عادي خراب دی».

د غوښتنو د تعادل ارزښ د خپروو شویو ځوابونو د سلنې توپیر دی، چې «پرمختګ یې کړی» او «خراب شوی».

د کسب و کار اقلیم د وضعیت د «تعادل ارزښ» او د غوښتنو د «تعادل ارزښ» ترمنځ یو محاسبوي/ریاضیکي وسیله **Mean** ده!

د لومړئ سروې په دوره کې د ګرافیکي پرېزېنټېشن «عادي» او «همغه ډول پاتې» د صفر په ډول پاتې، د اقلیم شاخص ښایي له صفره توپیر پیل کړي آن تر سلو مثبتو پورې او همدارنګه تر سلو منفي پورې. وروسته په یوه مرحله کې، صفر د کلنې عادي اقلیم (۱۰۰په پام کې نېول کېږي او راتلونکې کاري ربعه د دې کال د پاره ضمیمه/انډکس نېول کېږي) پر بنسټ وي.

---

**ترتیبوونکي: یونس نګاه، نعمت الله علیشیریان او ډاکتر مسعود پروانفر**

**مرکه کوونکي: علي سراج، سنګر جبارخېل، فضل احمد، احمد ولید او عبدالقدیر**